# شتمني
SHTAMANI
اوونيزه
تأسیس: ۱۳۹۴ل ل

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

ذوالقعدة الحرام ۱۰ -۱٤٤٧ ل س | د غويي ۷ -۱۴۰۵ ل ل | د اپريل ۲۷-۲۰۲٦ ز | شپږم کال | ۱٦۴ گڼه | ٤ مخيزه | ۱


**د شرعي حد قايمولو ترغيب**

ژباړه: حضرت ابو هريره رضي الله عنه روايت کوي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که د الله (ج) له حدودو څخه يو حد په ځمکه کې جاري سي، نو دا د ځمکې د خلکو له پاره تر دې غوره دئ، چې پرله پسې دېرش ورځې باران و اوربېږي. [ الترغيب والترهيب ۱۴۱ ]

**ترغيب قايم کردن حد شرعی**

ترجمه: حضرت ابو هريره رضی الله عنه روايت ميکند، که رسول الله ﷺ فرمود: اگر از حدود الله (ج) متعالی يک حد برای مردم روی زمين جاری شود، بهتر از باريدن باران سی روز پيهم است. [ الترغيب والترهيب ۱۴۱ ]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري )

**د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) د فرمانونو لړۍ**

**د حج د سفر پر مهال د معلمينو عمومي مکلفيتونه**

ځلورمه ماده: درېيمه برخه

۷- د مناسکو له پاره، حاجيان پر ټاکلي وخت بېول؛

۸- د ناروغۍ پر مهال حاجيان پر وخت اړوند مرجع ته معرفي کول او دائمي ناروغانو ته سپارښتنه کول، چې له ځان سره ضروري دواګاني ولري؛

۹- د خلاف شرع اعمالو په هکله حاجيانو ته پوهاوی ورکول او تر خپل توان ئې منع کول؛

**مکلفيت های عمومی معلمين هنگام سفر حج**

ماده چهارم: بخش سوم

۷- بردن حجاج در وقت معين برای مناسک؛

۸- معرفی به موقع حجاج به مرجع مربوط هنگام مريضی و توصيه به مريضان دائمی که دواهای ضروری را با خود داشته باشند؛

۹- آگاهی دادن به حجاج در مورد اعمال خلاف شرع و منع کردن آنها تا حد توان؛

# د تعرفې کمېټې د يو شمېر توکو د تعرفو په تړاو مهمې پرېکړې وکړې




د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند په مشرۍ او د اقتصاد، صنعت او سوداګرۍ، کانونو او پټروليم او عامې روغتيا د وزيرانو؛ د معيار او کيفيت ملي ادارې د عمومي رئيس، د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت او د استخباراتو عمومي رياست د باصلاحيته استازو؛ د کانونو او صنايعو، د سوداګرۍ او پانګوني او د کرنې او مالدارۍ خونو د مسئولينو په ګډون د تعرفې کمېټې د روان (۱۴۰۵)هـ.ل کال لومړۍ ناسته وسوه. په دې ناسته کې له هر اړخيزو بحثونو وروسته، د کورني صنعت او توليداتو د ملاتړ، کرنې او سوداګرۍ د ودې اصل ته په کتو لاندې پرېکړې وسوې، چې د تعرفې له اصولو سره سم به پلې سي.

| شمېره | د توکي نوم | د ګمرکي وارداتي تعرفې مخکينۍ سلنه | اوسنۍ ټاکل سوې تعرفه |
|---|---|---|---|
| ۱ | البسه | ٪۱۰ | ٪۲۰ |
| ۲ | کاغذي رول | ٪۱۰ | ۱٦٪ |
| ۳ | ګلخانه يي رول پلاستيک | ۱٦٪ | ۲۰٪ |
| ٤ | آتشزا(اوربلوونکې) مايع | ٪۱۰ | ۱٦٪ |
| ٥ | لمريزي آب ګرمۍ | ٪٥ | ۱٦٪ |
| ٦ | د کرکيټ بېټ | ۱٦٪ | ٪۳۰ |

# د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو د څار هيئت لسمه ناسته وسوه



د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو د څار هيئت لسمه ناسته د اقتصادي وزارتونو او ادارو د باصلاحيته استازو په ګډون د ګمرکونو معينيت د نړيوالو مالياتو په تالار کې وسوه. د ناستې په پيل کې د ګمرکونو او عوايدو معين د ستونزو د حل په موخه د ادارو ترمنځ پر همږغۍ او مراجعينو ته د اړينو اسانتياوو پر رامنځته کولو ټينګار وکړ. ور پسې د اوسپني پټلۍ د معين په مشرۍ د ټاکل سوي پلاوي له لوري، په بلخ کې د حيرتان او په هرات کې د روزنک او تورغونډۍ ګمرکونو کې د اوسپني پټلۍ او د واګونونو په برخه کې د شته ستونزو د تحليل تفصيلي راپور وړاندې سو. په دې راپور کې د وړاندې سويو حل لارو په پلي کېدو سره به په يادو ګمرکونو کې (۲۴) ساعته خدمات پيل او د سوداګرو له پاره به ګڼ سهولتونه رامنځته سي. د يادوني وړ ده، چې ياد پلاوی د اقتصادي کمېسيون د حکم پر اساس جوړ سوی، چې اساسي موخې ئې د اقتصادي وزارتونو او ادارو د فعاليتونو او کړنو څار او په يادو ادارو کې مراجعينو ته د اړينو اسانتياوو رامنځته کول دي.


## سرمقاله

### شفافيت مالی؛ بنيان استوار اعتماد ملی و حکمرانی مؤثر

شفافيت مالی به‌عنوان يکی از بخش ها و ارکان اساسی حکومتداری خوب نقشی تعيين‌کننده در تقويت اعتماد ميان حکومت و شهروندان ايفا می‌نمايد. هرگاه عوايد ملی به‌گونه‌ی شفاف جمع‌آوری و مصارف آن با دقت و پاسخگويی مديريت گردد زمينه برای شکل گيری اعتماد پايدار و مشارکت فعال مردم در روندهای اقتصادی فراهم می‌شود و مردم در اين بخش فعال تر و با اعتماد بيشر اشتراک می کنند. در نظام‌های مالی معاصر شفافيت نه‌تنها يک اصل اداری بلکه يک ضرورت استراتژيک برای تأمين عدالت اقتصادی و جلوگيری از فساد محسوب می‌گردد و حکومت ها برای جذب مردم هميشه در اين بخش تلاش زياد می کنند. دسترسی شهروندان به معلومات مالی وضاحت در روندهای بودجوی و پاسخگويی نهادهای مسئول در اين بخش از جمله عواملی اند که مشروعيت نظام مالی را تقويت می بخشند. وزارت ماليه در راستای تحقق اين اصل، تلاش نموده است تا با تطبيق اصلاحات ساختاری، ديجيتالی‌سازی خدمات و بهبود سيستم‌های نظارتی در خود وزارت و رياست های مربوطه گام‌های مؤثری در جهت افزايش شفافيت برداشته و کوشش می کند که تسهيلات زيادی را برای عموم مردم ايجاد و فراهم سازد. اين اقدامات ضمن تسهيل ارائه خدمات زمينه را برای کاهش تخلفات و فساد اداری و افزايش کارايی و تسريع روند فراهم ساخته است. بی‌ترديد تداوم اين روند و ساخت فرهنگ شفافيت مالی و ساده سازی اين روند نه تنها به بهبود مديريت منابع مالی می انجامد بلکه اعتماد ملی را به‌عنوان سرمايه ای ارزشمند تقويت کرده و مسير توسعه پايدار کشور را هموار می‌سازد و زمينه را برای گسترش ديگر بخش های توسعه ای و اقتصادی درون کشور فراهم کرده و کشور را به سوی آينده بهتر سوق خواهد داد.

با احترام

اداره



د کورنۍ پلټنې لوی رئيس او ورسره مل پلاوي يو شمېر لوېديځو ولايتونو ته سفر وکړ

م ۲




د ماليې وزارت د شکايتونو اورېدو آمريت (۱۸) شکايتونو ته رسېدنه کړې

م ۲




د يو شمېر مستوفيانو د اداري کړنو کلنۍ ارزونه وسوه

م ۲



د هيواد ۳۴ ولايتونو د املاکو مديرانو ته انلاين سيمينار جوړ سو

م ۲



چيستی و اهميت برند در اقتصاد

م ۳



هيئت رياست عمومی املاک امارتی به ولايت های لغمان و ننگرهار سفر نمود

م ٤

شتمني SHTAMANI
اوونيزه

## په امارتي ادارو کې د ګمرکونو او عوايدو معينيت ۵۰ تنو کارکوونکو ته د کارېدونکي مديريت روزنيز پروګرام جوړ کړ



د ماليې وزارت د کارکوونکو چارو رياست؛ د عوايدو او ګمرکونو معينيت (۵۰) تنو کارکوونکو ته په امارتي ادارو کې د کارېدونکي مديريت په تړاو روزنيز پروګرام جوړ کړ.

په دې تړاو ناسته، چې د دې وزارت د اداري معينيت د غونډو په سالون کې ترسره سوې وه، د ګمرکونو لوی رياست عملياتي مرستيال ملا عبدالهادي ابرار، د کارکوونکو چارو رياست د ظرفيت لوړوني آمر مفتي عبدالوهاب عابد او د دعوت او ارشاد رياست استازي مولوي وصيف احمد احمدي ګډون کړی وو.

ښاغلي عابد وويل، چې دا پروګرام د ادارو د اړتيا وړاندي کولو پر اساس ترسره سوی. له دې روزنيز پرګرام سره به ستاسو مسلکي مهارتونه وده وکړي او تاسو کولای سئ په ښه توګه خپلي دړ سپارل سوي دندي مخته يوسئ.

د ګمرکونو لوی رياست عملياتي مرستيال وويل، چې تاسو له چمتو سويو امکاناتو او فرصتونو ښه ګټه پورته کړئ او د مسلکي مهارتونو په تر لاسه کولو سره صادقانه او مخلصانه خدمتونه وړاندي کړئ.


د دعوت او ارشاد رياست استازي وويل، چې تاسو ته فرصت او امتياز درکړ سوی دئ؛ ترڅو په امارتي ادارو کې د کار کولو ترڅنګ خپلو مسلکي مهارتونو ته هم وده ورکړئ، له همدې کبله له روزنيزو پرګرامونو څخه په ګټې اخيستني سره خپل مسلکي مهارتونو ته وده ورکړئ او شته نيمګړتياوي اصلاح کړئ.

د يادوني وړ ده، چې په دې روزنيز پرګرام پلان جوړونه، راپور او مکتوب ليکنه، استعلام او وړانديز ليکنه، خبري او اړيکي، د بشري سرچينو مديريت، ستراتيژيک مديريت او نور اړين او اړوند موضوعات به ګډونوالو ته په ښکېښي تشريح او تدريسېږي.

## د کورنۍ پلټني لوی رئيس او ورسره مل پلاوي يو شمېر لوېديځو ولايتونو ته سفر وکړ

د ماليې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رئيس ملا عصمت الله منيب په مشرۍ يوه پلاوي د چارو د ارزوني او د پلټني سپارښتنو د تطبيق د تعقيبولو په موخه د هرات، فراه او نيمروز ولايتونو له ګمرکونو او مستوفيتونو او همداراز د هلمند ولايت له مستوفيت څخه ليدنه وکړه.

ښاغلي ملا عصمت الله منيب د يادو ادارو له مسئولينو سره د پلټني سپارښتنو د تطبيق د څرنګوالي، په شفاف ډول د ملي عوايدو د راټولولو، د لګښتونو د اغېزمن کنټرول او د ماليه ورکوونکو او مراجعينو غوښتنو او ستونزو ته د رسېدني او يو شمېر نورو موضوعاتو



په اړه خبري وکړي او له اړوندو مسئولينو سره ئې په دې برخه کې لازمي مشورې شريکې کړې.

د يادوني وړ ده، چې يادو ادارو د دې رياست پلټونکو له لوري ورکړل سوي ډېری سپارښتني تطبيق کړي او ژمنه ئې وکړه، چې د پاتي سپارښتنو د تطبيق له پاره به جدي ګامونه پورته کړي.

په پای کې د کورنۍ پلټني لوی رئيس د ذکر سويو ادارو د مسئولينو او کارکوونکو ستونزي او غوښتني واورېدې، چې د حل په موخه به ئې ډېر ژر د ماليې وزارت له مقام سره شريکې کړي.

## د ماليې وزارت د شکايتونو اورېدو آمريت (۱۸) شکايتونو ته رسېدنه کړې ده

د ماليې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رياست د شکايتونو اورېدو آمريت د دغه وزارت اړوند ټولو شکايتونو؛ لکه: فساد، کم کاري، کار ځنډوني او د يو شمېر مسئولينو ناسم چلند ته د رسېدني مسئوليت په غاړه لري او ترلاسه سويو شکايتونو ته له ځنډ پرته رسېدنه کوي.

دغه آمريت د (۱۴۰۴) کال حوت (کب) مياشتي له پيل څخه د دغي مياشتي تر پايه پوري په ټوله کې (۲۰) شکايتونه ترلاسه کړي او اورېدلي دي.

له دې جملې (۱۳) شکايتونه د وټس اپ له لاري، (۵) شکايتونه په حضوري بڼه، (۱) شکايت د برېښناليک او (۱) د ټيليفون له لاري له دغه آمريت سره شريک سوي دي، چي ياد شکايتونه د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې په برخو کې ول، چي د دغه آمريت له لوري ئې (۱۸) شکايتونو ته رسېدنه سوې او (۲) شکايتونو لا اجراء پاتي دي.

د يادوني وړ ده، چې ټول هيوادوال کولای سي د ماليې وزارت د بېلابېلو څانګو په ځانګړې توګه د عوايدي سرچينو او د ګومارني په برخه کې د اصلاحاتو په تړاو خپل شکايتونه، وړانديزونه او نظريات د برېښناليک، وټس اپ، ټيليفون، په حضوري بڼه او د شکايتونو د صندوق له لاري له دغه آمريت سره شريک کړي، چې د شکايتونو د اورېدو آمريت به له طبقه بندۍ وروسته دغو شکايتونو ته په شفاف او ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.

د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰
وټس اپ نمبر: ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶




## د يو شمېر مستوفيانو د اداري کړنو کلنۍ ارزونه وسوه

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رئيس الحاج مولوي سفر محمد سحر په مشرۍ د (۲۰) تنو مستوفيانو د اداري فعاليتونو د (۱۴۰۴) هـ.ل کال د کلنۍ ارزوني ناسته د عوايدو او ګمرکونو معينيت د غونډو په تالار کې وسوه.

په ياده ناسته کې د عوايدو لوی رئيس، د مستوفيتونو مرستيال کفيل، د ولايتي عوايدو د انسجام او پراختيا رئيس او د مستوفيانو سربېره د کارکوونکو چارو رياست او د اداري اصلاحاتو اداري استازو ګډون درلود.

په پيل کې د عوايدو لوی رئيس د تېر کال په جريان کې د مستوفيانو اداري فعاليتونه او لاسته راوړني وستايلې او سپارښتنه ئې وکړه، چې په راتلونکي کې هم خپلو اغېزمنو خدمتونو ته دوام ورکړي.

وروسته د ننګرهار، غزني، بدخشان، هلمند، فراه، نيمروز، پکتيا، تخار، پروان، سمنګان، پکتيکا، زابل، دايکنډي، بادغيس، غور، کاپيسا، لوګر، سرپل، نورستان، او پنجشېر مستوفيانو د تېر (۱۴۰۴) کال د اداري فعاليتونو ارزونه يو پر بل پسې ترسره سوه.


تر ارزوني وروسته ښاغلو مستوفيانو يو ځل بيا په بشپړ تعهد، پوره ايمانداری او اخلاص سره د خدمت ژمنه تازه کړه.



## د هيواد ۳۴ ولايتونو د املاکو مديرانو ته انلاين سيمينار جوړ سو

د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالی) له لوري د امارتي ځمکو او جايدادونو د اجارې په تړاو د نوي منظور سوي قانون پر اساس او د هيواد ټولو مستوفيتونو د املاکو برخي مديرانو ته د ياد قانون د لا وضاحت په تړاو پرليکه (انلاين) سيمينار ترسره سو.

په دغه سيمينار کې د ماليې وزارت د امارتي املاکو لوی رئيس الحاج حافظ عبدالقدير حقاني، د دې وزارت د کارکوونکو چارو رياست د روزني او ظرفيت لوړوني آمر عبدالوهاب عابد او د هيواد د (۳۴) مستوفيتونو د املاکو مديرانو انلاين ګډون درلود.



د سيمينار په پيل کې د روزني او ظرفيت لوړوني آمر په خپلو خبرو کې د ياد قانون د غوره تطبيق په تړاو هر اړخيزي خبري وکړې او هيله ئې وښوده، چې له دغه پروګرام څخه ګډونوال پوره ګټه پورته کړي.

وروپسې بيا د امارتي املاکو لوی رئيس د خپلو خبرو په لړ کې د ياد سيمينار د ارزښت په تړاو اړيني خبري وکړې او د ټولو ولايتونو د املاکو له مديرانو څخه ئې وغوښتل، چې له دغه سيمينار څخه پوره ګټه پورته کړي او له مخې ئې خپلي چاري په پوره دقت، مسلکيتوب او ايمانداری سره ترسره کړي.

## د عوايدو لوی رئيس له مرکزي مالياتي ادارو څخه ليدنه وکړه

د عوايدو لوی رئيس الحاج مولوي سفر محمد سحر، ماليه ورکوونکو ته د خدمتونو وړاندي کولو رياست، د کوچنيو ماليه ورکوونکو رياست او د ماليه ورکوونکو د تشخيصيه نمبر له آمريت څخه ليدنه وکړه.

په ياده ليدنه کې د عوايدو لوی رئيس د يادو ادارو له چارو څخه د څارني ترڅنګ اداري کارکوونکو ته له مراجعينو سره د ښکو اخلاقو، ښه سلوک او پر وخت د کارونو د ترسره کولو سپارښتنه وکړه.



ښاغلي سحر د يادو ادارو د کارکوونکو د کاري ستونزو، غوښتنو او نظرياتو سربېره د کاري پروسو د ښه کولو په موخه د هغوی وړانديزونه هم واورېدل. د عوايدو لوی رئيس د دغو ادارو مسئولينو او کارکوونکو ته د ستونزو د حل او وړانديزونو ته د رسېدو ډاډ ورکړ.

د يادوني وړ ده، چې د عوايدو لوی رئيس مراجعينو ته د خدمتونو د وړاندي کولو د کيفيت او د کاري پروسو د ارزوني او څارني په موخه له اړوندو مالياتي ادارو څخه ليدني کوي.

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه



محمدرضا صمدی
کارشناس ارایه طرح های اقتصادی

# چیستی و اهمیت برند در اقتصاد



" برنـد"(Brand) واژه انگلیسـی اسـت کـه ترجمـه و معـادل آن در فارسـی نـام تجـاری ذکـر گردیـده اسـت امـا نـام تجـاری هیـچ وقـت معنـا و مفهومـی را کـه کلمـه برنـد زیـر چـتر دارد و یـا آنـرا پوشـش مـی دهـد افـاده نمـی کنـد. ترجمـه هـای سـطحی و سـاده کـه نتوانـد مفهـوم را کامـل ارایـه کنـد باعـث مـی شـود کـه واژه هـای بیگانـه در زبـان مـادری ملـت هـا وارد، رایـج و حفـظ شـوند. البتـه بایـد عـلاوه کـرد کـه ایـن موضـوع تنهـا تقصیـر مترجـم نیسـت گاهـا دایـره واژگانـی یـک زبـان محـدود اسـت و هنـوز مفهـوم لازم بـرای کلمـات بیگانـه در آن شـکل نگرفتـه اسـت.
اگـر بـه تعریـف و چیسـتی برنـد بپردازیـم برنـد همـان حـس اسـت کـه مـردم یـا مشـتری نسـبت بـه یـک نـام، محصـول یـا کسـب‌وکار در ذهـن خـود دارنـد. مثـلا: هـرگاه قـول فروشـنده محصـول بـا تجربـه خریـدار محصـول یکـی باشـد، آن محصـول برنـد اسـت. بـه قـول معـروف برنـد در شرکـت هـا سـاخته مـی شـود امـا در ذهـن مـردم شـکل مـی گیرنـد. در کشـور مـا برنـد فقـط در لوگـو خلاصـه مـی شـود مـی گوینـد چـون لوگـو دارد برنـد اسـت. ایـن درسـت نیسـت گاهـا یـک شرکـت و محصـول بـدون لوگـو در نـزد مـردم برنـد اسـت.
یـک برنـد از چنـد جـز مهـم مثـل هویـت، ارزش، تجربـه و تصویـر ذهنـی سـاخته و یـا شـکل می‌گیرنـد. تصویـر ذهنـی مهـم تریـن بخـش مسـأله برنـد اسـت کـه وقتـی مشـتری نـام محصـول شرکـت را مـی شـنود و یـا مـی بینـد چـه حـس نسـبت بـه آن دارد؟ درواقـع همیـن احسـاس اسـت کـه برنـد و محصـول را از هـم تشـخیص مـی دهـد بـه عبـارت دیگـر محصـول چیـزی اسـت کـه فروختـه مـی شـود و برنـد همـان چیـزی اسـت کـه مشـتری حـس مـی کننـد. یعنـی برنـد احسـاس و تجربـه مشـتری را در خـود دارد. درسـت اسـت کـه برنـد در شرکـت هـا سـاخته مـی شـود امـا رونـد و فراینـد شـکل گیـری آن در ذهـن مـردم انجـام مـی شـود. رونـد برنـد شـدن از برنامـه ریـزی، تکـرار و ثبـات شـکل مـی گیرنـد.
اگـر از مبحـث چیسـتی برنـد و برنـد سـازی بگذریـم مهـم تریـن سـوال کـه خلـق مـی شـود ایـن اسـت کـه برنـد چـه تأثیـری براقتصـاد دارد در نبـود برنـد خلاهـای ذیـل در اقتصـاد یـک کشـور مشـاهده مـی شـوند:

- محصولات وکالاها ارزان‌تر از ارزش واقعی اش فروخته می شوند؛
- صادرات کشور ضعیف می ماند؛
- شرکت‌ها رشد نمی کنند؛
- شغل‌های باکیفیت ایجاد نمی شوند؛
- پول یا ارز از کشور خارج می شوند؛ و
- اعتماد در بازار از بین می روند.

اگـر چیسـتی و اهمیـت برنـد بـه عنـوان یـک ابـزار اقتصـادی در کشـور درک شـود، محصـولات متنـوع افغانسـتان بـه سـوی برنـد سـازی برونـد، یقینـا خلاهـای اقتصـادی کـه درفـوق تذکـر رفـت از اقتصـاد کشـور برطـرف مـی شـوند و مـا دیگـر محصـولات و تولیـدات خـود را بـه قیمـت مـواد خـام در بـازار نمـی فروشـیم. نمونـه هـای روشـن در ایـن زمینـه وجـود دارد مثـلا: قالیـن هـای دسـت بـاف وطنـی بـا کیفیـت کـه در کشـور مـا تولیـد مـی شـود بـه نصـف قیمـت بـه کشـور هـای منطقـه صـادر و فروختـه مـی شـود. همیـن طـور اگـر کل محصـولات کشـور محاسـبه شـود تقریبـا نصـف اقتصـاد افغانسـتان بـه دلیـل عـدم محصـولات برنـد ضایـع مـی شـوند. ایـن اصـلا یـک موضـوع و ضرر کـم اهمیـت بـرای اقتصـاد یـک کشـوری مثـل افغانسـتان نیسـت. بـه امیـد اینکـه روزی چالـش هـای فـراروی برنـد و برندسـازی در کشـور مـا برطـرف شـود.


# اعلانات داوطلبی

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیـه امـارت اسـلامی افغانسـتان از تمـام داوطلبـان واجـد شرایـط دعـوت مینمایـد تـا در داوطلبـی پـروژه( تهیـه و تـدارک سـیم سرغـچ T۱ و T۲ بـرای گمـرکات ) دارای نمـبر تشـخیصیه ١٤٠٥/MOF/ ١١٧٨-NCB/G کـه بـه روش داوطلبـی بـاز داخلـی صـورت میگیـرد اشـتراك نمـوده و شرطنامـه را بـه لسـان دری و پشـتو از آدرس ذیـل مطابـق شرایـط شرطنامـه، قانـون عقـود و طرزالعمـل تـدارکات عامـه اجـراء میگـردد بدسـت آورنـد.
جلسـه قبـل از آفرگشـایی : تاریـخ ١٣/ ثـور/١٤٠٥ سـاعت ١٠:٠٠ قبـل ازظهـر
تاریـخ مشـخص آفرگشـایی: ٢٣/ ثـور/١٤٠٥ سـاعت ١٠:٠٠ قبـل ازظهـر
آدرس: سـایت رسـمی اداره تـدارکات ملـی (https://tenders.ageops.af)، ریاسـت عمومـی اداره امـور ا.ا.ا
شـماره تمـاس دفـتر: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦ آفرهـای دیـر رسـیده و انترنتـی پذیرفته نمیشـود

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاك امارتـی وزارت مالیه ٣ جایداد ذیـل واقـع ناحیـه اول ، پنجـم و شـانزده هـم شـهر کابـل را طـور جداگانـه بـه اعـلان مزایـده مـی سـپارد.
١. یـک بـاب مغـازه نمـبر ١٤ بـه مسـاحت ٤٣٤ مـتر مربـع واقـع میرویـس میـدان کوتـه سـنگی مربـوط ناحیـه ٥ شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (٥٥٠٠٠) افغانـی. مـدت ٢ سـال کوردینـات (جـی پـی اس نمـبر) ٦٩,١١٣٨٤٣ ٣٤,٥١٤٥١٥
٢ . دوکان نمـبر ١٢ بـه مسـاحت ١٥,٩ مـتر مربـع واقـع شـهرك البـرز ناحیـه ١٦ شـهر کابـل مربـوط بـلاك B بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (٢٢٠٠) افغانـی، مـدت ٢ سـال. کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦٩,٢٠٢٩٨ ٣٤,٥٢١٧٨
٢ . دوکان نمـبر ٩ بـه مسـاحت ٨،٦٤ مـتر مربع واقع مدینـه مارکیـت مربـوط ناحیه اول شـهر کابل بـه کرایه ابتدائـی ماهانـه مبلغ (٧١٥٣٠) افغانی، مدت ١ سـال. کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦٩,١٧٧٢٤ ٣٤,٥١٧٤١
اشـخاصیکه خواهـان بـه کرایـه گرفـتن جایـداد هـای فـوق باشـند میتواننـد درخواسـت هـای شـان را از تاریـخ ١۴٠۵/٢/١ الـی ١۴٠۵/٢/٧ بـه مـدت (٧) روز بـه ریاسـت عمومـی امـلاك امارتـی تسـلیم نمـوده و شرطنامـه را اخـذ نماینـد.
آدرس : سـینما پامیـر تعمیـر ١٤ منزلـه ، منـزل٥، مدیریـت عمومـی ارزیابـی قـرار دادهـای مرکـز.
شـماره تمـاس:( ٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧)، مجلـس داوطلبـی ١۴٠۵/٢/٨ بـه سـاعت (١٠:٠٠) قبـل از ظهـر برگـزار میگـردد.

## اعلان داوطلبی

ریاسـت عمومی امـلاك امارتی وزارت مالیـه دو بـاب دوکان ذیـل واقـع ظاهـر شـاهی مارکیـت مربـوط ناحیـه اول شـهر کابـل را طـور جداگانـه بـه اعـلان مزایـده مـی سـپارد، مـدت یکسـال.
١. دوکان نمـبر ١٤١ بـه مسـاحت ١٢,٨ مـتر مربـع واقـع ظاهـر شـاهی مارکیـت مربـوط ناحیـه اول شـهر کابـل بـه کرایه ابتدائـی ماهانـه مبلغ (٩٧٧٠٠) افغانـی.
٢ . دوکان نمـبر ١١٢ به مسـاحت ٥,٥١ مـتر مربـع واقـع ظاهـر شـاهی مارکیـت مربـوط ناحیـه اول شـهر کابـل بـه کرایه ابتدائـی ماهانـه مبلغ (٣٠٥٠٠) افغانـی.
کوردینـات (جـی پـی اس نمـبر) ٣٤,١٧٧٥٦ ٦٩,٥١٧١
اشـخاص حقیقـی وحکمـی کـه خواهـان بـه کرایـه گرفـتن دوکاکیـن فـوق الذکـر باشـند میتواننـد درخواسـت هـای شـان را از تاریـخ ١۴٠۵/١/٣٠ الـی ١۴٠۵/٢/٨ بـه مـدت (١٠) روز بـه ریاسـت عمومـی امـلاك امارتـی تسـلیم نمـوده و شرطنامـه را اخـذ نماینـد.
آدرس: سـینما پامیـر تعمیـر ١٤ منزلـه، منـزل٥، مدیریـت عمومـی ارزیابـی قـرار دادهـای مرکـز.
شـماره تمـاس: ( ٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧)، مجلـس داوطلبی ١۴٠۵/٢/٩ به سـاعت (١٠:٠٠) قبـل از ظهـر برگـزار میگـردد.

## اعلان داوطلبی

ریاسـت عمومـی امـلاك امارتـی وزارت مالیـه( ١٠ )جایـداد را از طریـق پروسـه مزایـده (داوطلبـی) بـه طـور جداگانـه بـه اعـلان مـی سـپارد.
١- یـک بـاب دوکان نمـبر ١١٣ بـه مسـاحت ٥,٥١ مترمربـع واقـع ظاهرشـاهی مربـوط ناحیـه اول شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (١٥٧٠٠) افغانـی بـه مـدت یـک سـال.
٢- یـک بـاب دوکان نمـبر ١١٧ بـه مسـاحت ٥,٥١ مترمربـع واقـع ظاهرشـاهی مربـوط ناحیـه اول شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (١٢٦٠٠) افغانـی بـه مـدت یـک سـال.
٣- یـک بـاب دوکان نمـبر ٥٩ بـه مسـاحت ٦,٢٧ مترمربـع واقـع ظاهرشـاهی مربـوط ناحیـه اول شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (١٥٥٥٠) افغانـی بـه مـدت یـک سـال.
٤- یـک بـاب دوکان نمـبر ١١٤ بـه مسـاحت ٥,٥١ مترمربـع واقـع ظاهرشـاهی مربـوط ناحیـه اول شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (١٤٠٠٠) افغانـی. بـه مـدت یـک سـال.
٥- یـک بـاب دوکان نمـبر ١٢٢ بـه مسـاحت ٥,٥١ مترمربـع واقـع ظاهرشـاهی مربـوط ناحیـه اول شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (٢٩٩٦٣) افغانـی. بـه مـدت یـک سـال.
کوردینـات (جی.پـی.اس) نمـبر:٣٤,٥١٧١ ٦٩,١٧٧٥٦
٦- یـک بـاب دوکان نمـبر B-٧١ بـه مسـاحت ١٨ مترمربـع واقـع نظیـف مارکیـت مربـوط ناحیـه پنـج شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (٩٢٠٠) افغانـی بـه مـدت یـک سـال.
٧- یـک بـاب دوکان نمـبر B-٤٨ بـه مسـاحت ١٥ مترمربـع واقـع نظیـف مارکیـت مربـوط ناحیـه پنـج شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (١٢٣٦٧) افغانـی بـه مـدت یـک سـال.
٨- یـک بـاب دوکان نمـبر A-٨٩,٩٠,٩١ بـه مسـاحت ٥٤ مترمربـع واقـع نظیـف مارکیـت مربـوط ناحیـه پنـج شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (١٢٥٠٠) افغانـی بـه مـدت یـک سـال. کوردینـات (جـی پـی اس) نمـبر: ٣٤,٥١٥٢٧٢ ٦٩,١١٧٤٦
٩- مـوازی ٧٣٢,٤ مترمربـع زمیـن واقـع خیرخانـه سـمت کوچـه فرعـی و پـارك تفریحـی مربـوط ناحیـه یـازده شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (١٥٠٠٠) افغانـی بـه مـدت سـه سـال. کوردینـات (جـی پـی اس) نمـبر: ٣٤,٥٧٢٦٨٨ ٦٩,١٣٩٧٨٣
١٠- یـک بـاب دوکان نمـبر ٨ بـه مسـاحت ٢٣ مترمربـع واقـع شـهرك البـرز ناحیـه شـانزده شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (١٣٩٥) افغانـی بـه مـدت دو سـال.
کوردینـات (جـی پـی اس) نمـبر: ٣٤,٥٢١٧٨ ٦٩,٢٠٢٩٨
اشـخاص کـه خواهـان بـه کرایـه گرفـتن جایدادهـای فـوق باشـند میتواننـد درخواسـت هـای شـان را از تاریـخ ١/٢٣ / ١۴٠۵ الـی ١/ ٢/ ١۴٠۵ بـه مـدت (١٠ ) روز بـه ریاسـت عمومـی امـلاك امارتـی واقـع منـزل چهـارم تعمیـر ١۴ منزلـه سـینمای پامیـر تسـلیم نمـوده و شرطنامـه را اخـذ نماینـد.
آدرس : سـینما پامیـر تعمیـر ١٤ منزلـه ، منـزل٥، مدیریـت عمومـی ارزیابـی قـرار دادهـای مرکـز، شـماره تمـاس:( ٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧)، مجلـس داوطلبـی ١۴٠۵/٢/٢بـه سـاعت (١٠:٠٠) قبـل از ظهـر برگـزار میگـردد .

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدیر: عبدالقیوم نصیر
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکسپاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)





## د حمايوي، تدارکاتي، خدماتي او مالي او اداري پروسو د ساده کولو په موخه ناسته وسوه



د حمایوي، تدارکاتي، خدماتي او مالي او اداري پروسو د ساده کولو په موخه، د چارو اداري، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو ادارې او د ماليې وزارت د استازو په ګډون د دې وزارت د اداري معینیت په کنفرانس خونه کې ناسته وسوه.
په دې ناسته کې د جنسي محاسبې د تعلیماتنامې د تعدیل، د (ف س۹، ف س ۱۱) نویو فورمونو د طرحې او ډیزاین، د مساعدتي جنسونو د تشریح له پاره د استازي د معرفي کولو، د وخت ضایع کولو د مخنیوي په موخه د ماليې وزارت د ویبپاڼې له لارې د اعلانونو د خپرولو له پاره ادارو ته د یوزرونو جوړولو او نورو اړوندو موضوعاتو په تړاو بحث او اړینې پرېکړې وسوې.




| شمېره | د ادارې نوم | د پیل نېټه | د پای نېټه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | د ټاکنو خپلواک کمېسیون | 1405/02/05 | 1405/02/08 |
| ۲ | د افغانستان د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداره (اترا) | 1405/02/05 | 1405/02/08 |
| ۳ | د صنفي اتحادیې مرکزي شورا | 1405/02/05 | 1405/02/08 |
| ۴ | د افغانستان د کسبګرو او دوکاندارانو ملي اتحادیه | 1405/02/05 | 1405/02/08 |
| ۵ | د مکروریانونو د ساتنې او خارنې ریاست | 1405/02/05 | 1405/02/12 |
| ٦ | د مخابراتو وزارت | 1405/02/05 | 1405/06/05 |
| ۷ | د افغانستان د کارګرانو ملي اتحادیه | 1405/02/05 | 1405/02/08 |

د پاتې نورو ادارو مهالوېش په خپل نوبت اعلانېږي.

## هیئت ریاست عمومی املاک امارتی به ولایت های لغمان و ننگرهار سفر نمود




هیئت تخنیکی و مسلکی ریاست املاک امارتی وزارت مالیه تحت رهبری رئیس عمومی این ریاست الحاج حافظ عبدالقدیر حقانی، به ولایت‌های لغمان و ننگرهار سفر رسمی نمود. این هیئت به طور جداگانه با مستوفیان و معاونین والیان هردو ولایت دیدار نموده و در رابطه به روند ثبت و نگهداری جایداد های امارتی، حفظ و مدیریت آن، جلوگیری از تصرفات غیرقانونی و غصب این جایدادها، تقویت هماهنگی میان ادارات مربوطه و سایر موضوعات مرتبط بحث نمود.
همچنان هیئت مذکور با رؤسای ریاست‌های عدلیه و مرافعه این ولایت نیز دیدار نموده و در مورد روند قضایای مربوط به جایدادها در محاکم، مشکلات موجود و راه های حل آن بحث همه جانبه صورت گرفت. در آخر به منظور بهبود هر چه بیشتر وضعیت پیشنهادات و هدایات لازم از سوی رئیس عمومی املاک امارتی ارائه گردید تا در آینده برای حفظ جایدادهای امارتی و مدیریت مؤثر آن گام‌های عملی و دوامدار برداشته شود.

## د هیواد ګمرکونه ورځ تر بلې په عصري وسایلو سمبالېږي
## د دغو وسایل ارزښت لسګونه میلیونه افغانۍ دئ





### د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



### د شکایتونو اورېدلو آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( +۹۳ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af